# يقينا چې په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې ښه اخلاق ولري

له عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم نه فاحش و (هغه څوک چې فحاشي يې عادت ګرځېدلی وي ) او نه متفحش و ( هغه څوک چې فحاشي يې عادت نه وي خو په عمدي توګه يې کوي) او فرمايل به يې: « يقينا چې په تاسو کې غوره هغه څوک دی چې ښه اخلاق ولري».
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

پوچه وینا او پوچې کړنې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اخلاقو څخه نه وو، نه يې د دې کار اراده درلوده او نه يې په قصدي توګه کاوه، ځکه چې هغه صلی الله علیه وسلم د لويو اخلاقو خاوند و. او رسول الله صلی الله علیه وسلم به ويیل: د الله جل جلاله په نزد په تاسو کې تر ټولو غوره هغه څوک دی چې اخلاق يې په ښو کړنو کولو - ورين مخ، له خلکو څخه په ضرر لرې کولو او يا ورڅخه سختۍ پورته کولو، او له خلکو سره په مهربانۍ چلند کولو سره ښايسته وي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5803